بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

بُست پوهنتون

علمي معاونيت

د کيفيت د تضمين او لوړاوي آمريت

# د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکوني د پوولس ګونو معيارونو تفسير

وړاندي کوونکي: د کيفيت دتضمين او لوړاوي چارو آمر بشيراحمد بشرمل

## اول معیار:ماموریت او ستراتیژي

تحصیلي مؤسسه یو روښانه ماموریت او ستراتیژیک پلان لري، چې ټول شرکاء پرې پوهیږي او د تصمیم نیوونې او د سرچینو د اختصاص لپاره بنسټونه لري.

# 1.1 معیار:

ماموریت (Mission)

مؤسسه د یو مناسب او رسماً تأیید شوي ماموریت درلودونکي دي.

شواهد

- **د لوړو زده کړو وزارت لخوا د پوهنتون تاید شوي لرلید او ماموریت**
- **د پوهنځیو او څانګو تاید شوي لرلید او ماموریت چې عامه وکړو ته یې په واک کې ورکړي وي.**

## 1.2 معیار:

ستراتیژیک پلان

تحصیلي مؤسسه د پنځه کلن ستراتیژیک پلان لرونکي ده.

شواهد

- **د پوهنتون په کچه د لوړو زده کړو وزارت له لوري تاید شوي پنځه کلن ستراتیژیک پلان.**
- **لوړو زده کړو وزارت ته د ستراتیژیک پلان د لیږد او تایدي مکتوبونه.**
- **په ستراتیژیک پلان کي د پنځه برخو د شتون شواهد.**
- **پوهنځیو او اړونده خواوو ته د ستراتیژیک پلان په مورد د نظر غوښتني مکتوبونه.**
- **د پوهنځیو او دیپارتمنت په کچه د تاید شوي ستراتیژیک پلان موجودیت او اړونده خواؤ څخه د نظر غوښتني مکتوبونه او فورمي.**
- **د پوهنځي او دیپارتمنت په کچه کارمندانو او استادانو د ستراتیژیک د ارايي شواهد.**

## 1.3 معيار:

تطبيقي پلان جوړونه

مؤسسي کلني کاري پلان ترتيب کړي، چې د ياد پلان له مخې به د پنځه کلن ستراتېژيک پلان موخي په لاس راوړي.

شواهد

- **د پوهنتون، پوهنځيو او څانګو په کچه کلني او ربعه وار تطبيقي پلانونه.**
- **د تطبيقي پلان ربعه اوار او کلني راپورونه.**
- **د پوهنتون، پوهنځيو او څانګو د تطبيقي پلان د جوړېدا شواهد.**
- **له اړونده مراجعو څخه د پلانونو تايدي.**
- **د ټولو کميټو او امريتونو کاري تايد شوي پلانونه او راپورونه.**

## 1.4معيار:

د اداري اغیزمنتیا

تحصیلي مؤسسه خپل ټول مامورین د موسسې د کلني تطبیقي پلان پر وړاندې د کلنۍ بیا کتنې په برخه کې ښکېل ګرځوي. په دې سره هغه برخې په ګوته کېږي چې د راتلونکي کال کلني کاري پلان کې منعکس شوې وي.

شواهد

- **د پوهنتون، پوهنځیو او څانګو کلنۍ ارزونه (کلني پلان).**
- **د استادانو، کارمندانو او محصلانو ارزونه او تحلیل.**

# 1.5معیار:

## عامه معلومات

مؤسسه خپل ماموریت، کړنلاره، پالیسۍ او مدیریت په اړه عوامو ته معلومات په واک کې ورکوي.

## شواهد

- **بروشور**
- **خبري بولیتن**
- **د پوهنتون کتلاک**
- **ویب سایت**
- **د اعلاناتو بورد**
- **د جدید الشمولانو لپاره رهنمود**
- **د پوهنځیو او څانګو کتلاک، اجتماعي رسنۍ**

## دوهم معیار: د پوهنې په پرمختګ کې ونډه اخیستنه

تحصیلي مؤسسه د ټولنې، سیمې او د ملي پرمختیا په برخه کې ارزښتناکه ونډه لري. دا کار د هغوی په ستراتیژیکو موخو کې راغلي او د کارکوونکو او محصلینو تصمیم نیوونه او کړنو په اړه خبراوي ورکوي

## 2.1 معیار:

اکاډمیک فعالیت

د څېړنې او تدریسي پروګرام کې د تحصیلي موسسې د ماموریت اعلامیه د ټولنیزي اقتصادي او کلتوري پراختیا د یوه عامل په توګه راغلي دي.

شواهد

- **په ملي او بین المللي کچه د چاپ شوي اثار.**
- **د استادانو تیزیسونه**
- **د محصلینو تحقیقات**
- **د خصوصي سکتورونو سره د څیړنو د نتایجو شریکول( مکتوب).**
- **په خصوصي سکتورونو کې د استادانو لخوا د تحقیقي کنفرانسونو د دایریدو شواهد.**
- **د درسي تاید شوي کریکولم موجودیت.**
- **د محصلانو او فارغانو د نظریاتو په اساس د کریکولم د بیا کتنه شواهد.**

## 2.2 معیار:

د کارکوونکو بوختیا او مرسته

ټول اکاډمیک او اداري کارکوونکي په داسې کړنو کې ښکېل دي چې هغه د ټولنې، سیمې او هېواد د پرمختګ سره مرسته کوي.

شواهد

- **د ملي او بین المللي ورځو په هکله د ورکشاپونو او سمینارونو شواهد (چې د پوهنتون او پوهنځي رول د جامعي په انشکاف کې ثابت کړي).**
- **د ولایت په کچه د نورو ریاستونو سره په ګډه د برنامو د جوړیدا شواهد.**
- **دداسې شواهدو ارایه کول د پوهنتون او پوهنځیو په کچه استادانو په ولایتي انکشافي او تخنیکي برنامو کې فعال شرکت کړې وي.**
- **په بین المللي کنفرانسونو کې د استادانو د اشتراک شواهد.**
- **په راډیویي او تلویزیوني برنامو کې د استادانو د اشتراک شواهد چې د جامعي په انکشاف کې رول لري.**
- **د جامعي په انکشاف کې د علمي او اداري کارمندان د رول په هکله د میکانیزم درلودل**

## 2.3 معيار:

د محصلینو بوختیا

ټول محصلین د تحصیلي موسسې له ماموریت، ستراتیژیواو د ټولنې، سیمې او هېواد د پرمختګ اړوند اقداماتو په اړه خبر دي.

شواهد

- **د جدیدالشمول محصلینو لپاره د پوهنتون پېژندني په اړه لندمهاله برنامې.**
- **د بروشور له لارې د محصلانو خبراوي.**
- **د اعلاناتو د بورد له لارې د محصلانو خبراوي.**
- **دداسې شواهدو ارایه کول چې د محصلانو فعال رول په جامعه کې وښايي.**
- **د جامعې په اړه د محصلانو ګروپي څېړنې.**
- **د محصلانو د عملي کارونو د شوهدو ارایه چې د جامعې مطابق وي.**

## دریم معیار: حکومتداری، رهبریت او اداره

تحصیلي موسسې حکومتداری، رهبریت او اداره د خپل ماموریت او ستراتیژیکو موخو په تر سره کولو باندې متمرکزه ده.

### 3.1 معیار:

حکومتداري

تحصیلي موسسې د خپل ماموریت او ستراتیژیک پلان د پلي کېدا د څارنې لپاره د حکومتولۍ مناسب او اغېزمن جوړښتونه رامنځته کړي دي.

شواهد

- **د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د جلساتو د ثبت کتابونه او مینوتونه.**
- **د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د کمیټو تشکیلاتي چارتونه.**
- **د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د کمیټو د دندو لایحې.**
- **د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د کمیټو عملیاتي او انکشافي پلانونه.**
- **په کلني ډول د پوهنتون او پوهنځي په کچه د یو مهال ویش له مخې د کمیټو د ارزونې شواهد.**
- **د ارزیابي کوونکو له لوري د کمیټو له مسولینو سره د نواقصو د شریکیدا شواهد.**

## 3.2 معیار:

رهبریت

تحصیلي مؤسسه د فول ټایم او اغیزمن لوړ پوړي رهبري او مدیریتي ټیم له خوا رهبري کېږي.

شواهد

- **د رهبري هیت د روزمره حاضری کتل.**
- **د جلساتو د کتابونو لیدنه.**
- **د رهبري هیت د تحصیلي اسنادو کتنه.**
- **د کارمندانو او استادانو د ارزیابي د اسنادو کتنه.**

## 3.3 معیار:

اداره

د تحصیلي موسسې اداره د خپل ماموریت او ستراتیژیکو لومړیتوبونو د تر سره کولو سره پر مرستې باندې تمرکز لري.

شواهد

- د ټولو اداري کارمندانو د دندو لایحې.
- د ټولو اداري کارمندانو کاري عملیاتي پلانونه.
- د کاري عملیاتي پلانونو د تطبیق ربعه وار او کلني راپورونه.
- د اداري کارمندانو تحصیلي اسناد.

## 3.4 معیار:

اخلاقي اصول

تحصیلي مؤسسه هڅه کوي تر څو د خپل کار په ټولو اړخونو کې په اخلاقي توګه سره عمل وکړي، د فساد مخه ونیسي، د پلوي، قوم پرستي او ډلبازي مخه ونیسي او د رونېتوب، جنسي مساوات او عدل له تامین څخه ډاډ تر لاسه کړي.

شواهد

- **د نظم او دسپلین د لایحې موجودیت.**
- **د اخلاقي پالیسي موجودیت.**
- **د بروشور، ویبسایت، بنرونو او چارتونو پواسطه خپلو ټولو استادانو، کارمنداو او محصلانو ته د اخلاقي اصولو چاپ او نشر.**
- **د شکایاتو صندق د خلاصولو میکانیزم.**
- **د شکایاتو د صندق د ورقو ساتنه (حد اقل د یو کال لپاره)**
- **شکایاتو ته د رسیدني د اسنادو ارایه.**

# څلورم معیار: مالي سرچيني او مديريت

د تحصيلي موسسې سرچينې د خپل ماموريت او ستراتيژيک پلان د  پلي کېدا څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره ځانګړي او مديريت کېږي.

## 4.1 معيار:

مالي پلان جوړونه

تحصيلي مؤسسه ډاډ تر لاسه کوي چې د هغې مالي پلانونه د خپلو ستراتيژيکو موخو سره  همغږي او متمرکز دي.

شواهد

- **د پوهنتون د ستراتيژيک پلان مطابق د پنځه کلن تايد شوي مالي پلان موجوديت.**
- **د مالي منابعو د موجوديت شواهد.**
- **د مربوطه ټولو بخشونو څخه د نيازسنجي شواهد.**
- **له اړونده مسؤلينو سره د مالي راپورونو د شريکولو شواهد.**

## 4.2 معیار:

### مالي مدیریت

تحصیلي مؤسسه ډاډ تر لاسه کوي چې خپله کلنۍ بودیجه يې په اغېزمنه توګه سره مدیریت کېږي.

### شواهد

- **د تحصیلي نهاد د کلنۍ بودیجې له مخې د کلني تاید شوي مالي پلان موجودیت.**
- **د پوهنتون په کچه د مالي او اداري کمیټې موجودیت.**
- **د بودیجې د مصرف ربعه وار او کلني راپورونه.**
- **هغه شواهد چې مالي او اداري معاونیت مالي او اداري کمیټې ته راپور ورکړي وي.**
- **د مالي او اداري کمیټې د پروتوکول کتاب.**
- **هغه شواهد چې د پوهنځي د ریسانو سره د کلني انکشافي بودیجې په اړونده مشوره شوي وي (د جلساتو د ثبت کتاب).**
- **هغه شواهد چې د دیپارټمنت امرینو سره د کلني انکشافي بودیجې په اړونده مشوره شوي وي (د جلساتو د ثبت کتاب).**
- **هغه شواهد چې د اداري امریتونو سره د کلني انکشافي بودیجې په اړونده مشوره شوي وي (د جلساتو د ثبت کتاب).**

## 4.3 معیار:

مالي سیستم

تحصیلي موسسې اغیزمن مالي مدیریتي او محاسبوي سیستمونه رامنځته کړي دي.

شواهد

- **د پوهنتون مالي سیستم.**
- **د مربوطه مالي سیستم سره د مصارفو او بانکي چیکونو د اسنادو مقایسه.**
- **د محصلینو د فیس د ورکړې د سیستم مشاهده کول او په مالي سیستم کې د هغې موجودیت.**
- **د معاشاتو ورکړه او په مالي سیستم کې یې د اسنادو کتل.**
- **په مالي برخه کې د ترینګونو شواهد.**
- **په مالي برخه کې د مسلکي اشخاصو استخدام.**

## 4.4 معیار:

د حساب تصفیه

پوهنتون په کلنۍ ډول د خپلو عوایدو او مصارفو حساب ورکوي.

شواهد

- **وزارت مالي د تفتیش د تیرو دري کلونو راپورونه.**
- **د لوړو زده کړو وزارت او یا بل ملي نهادي راپورونه.**
- **د بین المللي نهاد د تفتیش راپورونه.**
- **د مستوفیت راپورونه.**

# پنځم معیار:علمي پروګرامونه

اکاډمیک پروګرامونه د تحصیلي موسسې له ماموریت سره همغږي دي او د پرله پسې ښه والي د ډاډګېرنې لپاره په منظمه توګه بیا کتل کیږي.

## 5.1 معیار:

د پروګرام اړتیاوې

ټول اکاډمیک پروګرامونه په روښانه توګه خپل اړتیاوې تعریفوي او دا شرح کوي چې دوي څنګه د موسسې ماموریت سره مرسته کوي.

شواهد

- **د هري برنامي لپاره د جلا کتلاک موجودیت چې د برنامي ټول اړونده معلومات پکي لیکل شوي وي.**
- **د کتلاک د نه موجودیت په صورت کي داسي نور شواهد چې د برنامي ټول معلومات حمایه کړي.**
- **د لوړو زده کړو وزارت له لوري د هري برنامي د د منظوري شواهد (مکتوبونه).**

## 5.2 معیار:

د کلني پروګرام څارنه

ټول اکاډمیک پروګرامونه د (لوړو زده کړو وزارت) د پروګرامونو د تصویب او بررسي د رسمي بهیرونو په کارونې سره په کلنۍ توګه څارل کېږي.

شواهد

- **د هري برنامي په کچه د کلنۍ بیا کتني راپور موجودیت.**
- **د پوهنتون په کچه د کلنۍ بیا کتني راپور.**
- **د رهنمود مطابق د د محصلانو د فیدبیک میکانیزم ارزیابي.**

## 5.3 معیار:

د پروګرام بیاکتنه

د علمي پروګرام دوسیه او کریکولم په هر پنځو کلنو کې یو ځل د لوړو زده کړو وزارت د بیاکتنې رسمي پروسې له لارې د بیاکتنې لاندې نیول کېږي.

شواهد

- **د مشخصو برنامو د پنځه کلني بیا کتني راپورونه.**
- **د پوهنتون په کچه د برنامو د پنځه کلني بیا کتني پلان.**
- **د نیازسنجي فورمي د تحلیل سره یوځای.**

## 5.4 معیار:

پیداګوژي

هغه میتودولوژي چې د اکاډمیکو پروګرامونو د تدریس لپاره کارول کېږي او د محصلینو زده کړه پیاوړي کوي په منظمه توګه سره اپډیټ کېږي.

شواهد

- **د مربوطه طرزالعمل له مخې د استادانو د درسي میتود ارزونه.**
- **د ارزیابي فورمي تحلیل او نتایج.**
- **د ارزیابیو راپورونه.**
- **د استادانو کورس پالیسي د OBE مطابق.**
- **د محصل محورۍ د اصولو د تطبیق شواهد(ګروپي کارونه، کنفرانسونه، صنفي پروژې، انلاین کورسونه او داسي نور).**

## 5.5 معیار

ارزونه

هغه میتودولوژي چې د محصلینو د جلب د ارزونې لپاره کارول کېږي مناسبې، رڼې او په منظمه توګه سره نوي کېږي.

شواهد

- د استادانو کورس پالیسي چې د ارزیابیو نوعیت پکې څرګند وي.
- د امتحاناتو د کمیټې تشکیل او جلسات.
- د امتحاناتو د طرزالعمل تطبیق شواهد.
- د ارزیابیو له نورو مبتکرانه طریقو شواهد.

## 5.6 معیار:

بریښنایي زده کړې

تحصیلي موسسې خپل دا ظرفیت هم رامنځته کړي دي تر څو خلکو ته د  بریښنایي زده کړه وړاندې کړي.

شواهد

- د معلوماتي تکنالوژي مرکز.
- پروجیکتور، LCD.
- کمپیوټرلب
- انټرنټ ته لاسرسي
- د معلوماتي تکنالوژي څخه د استفادي شواهد.
- د وسایلو او تجهیزاتو څخه بررسي
- د انلاین برنامو او انکشافي پلانونو موجودیت.

## 5.7 معیار:

تعاوني تواميتونه

تحصیلي مؤسسه خپل دا ظرفیت یا وړتیا هم جوړوي تر څو په افغانستان کې او له افغانستان څخه بهر له کومي بلي تحصیلي مؤسسي سره شریک (پارټنر) واوسي.

شواهد

- **د ستراتيژيکو موخو مطابق د هيواد دننه د تواميتونو اسناد.**
- **د تواميتونو او تفاهمنامو د تطبيق شواهد.**
- **د تواميتونو د ايجاد په موخه د ميکانيزم يا پاليسيو موجويت.**
- **د تواميتونو له تطبيق څخه وروسته د مثبتو تغيراتو د رامنځته کيدلو شواهد.**

# شپږم معیار: څېړنه

تحصیلي مؤسسه پلان لري تر څو خپل څېړنیز فعالیت رامنځته کړي او غواړي داړ تر لاسه کړي چې د پوهنځیو غړي د څېړنې په فعالیت کې بوخت واوسي.

## 6.1 معیار:

### څېړنیزې کړنې

تحصیلي مؤسسه یو شمیر څېړنیزې کړنې پرمخ وړي.

### شواهد

- **د تحقیقي پلان موجودیت.**
- **د تحقیق لارښود.**
- **د اکادمیکو کارمندانو د برخه اخیستني شواهد په څیړنه کې (د استادانو تحقیقات، تحقیقي مجله، د استادانو د څیړنو عملي کارونه او داسي نور).**
- **په څیړنو کې د محصلانو د برخه اخیستني شواهد (مونوګراف، تیزیس، عملي تحقیقي کارونه....).**
- **په جامعه د تاثیر لرونکو تحقیقاتو شواهد.**
- **د تحقیقي اثارو دیتابیس.**

## 6.2 معیار:

ملاتړ

تحصیلي مؤسسه د څېړنیز فعالیت د ملاتړ له پاره ظرفیت پرمخ وړي.

شواهد

- **د پوهنتون، پوهنځیو او فارغ ورکوونکو دیپارتمنتونو په کچه د تحقیق کمیټو موجودیت.**
- **د دندو لایحه.**
- **د تحقیق کمیټي د اعضاؤ د تحصیل کچه (ماستر، داکتر).**
- **د تحقییق کمیټي تاید شوي پلان.**
- **د پروتوکول کتاب موجویت.**
- **د تحقیقاتو د امریت موجودیت د مجرب منابع بشري او تکنالوژي سره.**
- **د پوهنتون په مالي پلان کي د تحقیقاتو لپاره د ځانګړي بودیجي موجودیت.**
- **د ترسره شویو تحقیقاتو لیست.**
- **د تحقیقاتي مرکز ربعه وار راپورونه.**

## 6.3 معیار:

روزنه

تحصیلي مؤسسه د څېړنې مهارتونه او د خپلو استادانو ورتیاووې پیاوړې کوي.

شواهد

- **د تحقیق امر او د تحقیق کمیټې د اعضاؤ د تحصیلي اسنادو بررسي.**
- **د استادانو لپاره د تحقیقي برنامو د دایرېدولو شواهد.**
- **په ملي کچه په تحقیقي برنامو کې د استادانو د اشتراک شواهد.**
- **په تحقیق کې د نوي تکنالوژۍ څخه د استفادې په  موخه د آموزشي برنامو شواهد.**
- **د تحقیق د تطبیقي پلان موجودیت.**
- **د تطبیقي پلان راپور.**

# اوم معيار: د پوهنځي غړي او مامورين

د تحصيلي مؤسسې کارکوونکي، د خپل پوهنځي غړي او کارکوونکي داسې اداره کوي تر څو وکولاي شي خپل ماموريت او ستراتيژيکي موخې تر لاسه کړي.

## 7.1 معيار:

اکاډميک ظرفيت

تحصيلي مؤسسه د خپلو اکاډميکو پروګرامونو د وړاندي کولو اړتياوو سره برابر شمېر کارکونکي استخداموي.

شواهد

- **د کريديت د لايحي مطابق د استاد او محصل تناسب.**
- **د استخدام رسمي پاليسي او د تطبيق شواهد يې.**
- **د استاد او تدريسي مضامينو تناسب د تحصلي درجي او علمي رتبي په تفکيک (حد اقل دري مضامين يا ۱۲ ساعته په هفته کې).**
- **د اکادميکو منابعو نيازسنجي (بشري قوه، زيربنا، سهولتونه ....) موجوده او آينده د تحليل سره.**
- **د استخدام پلان او د تطبيق شواهد.**

## 7.2 معیار:

غیر اکاډمیک ظرفیت

تحصیلي مؤسسه د خپلو غیر اکاډمیک کړنو د ترسراوي په موخه د مناسبو مهارتونو درلودونکي اړین شمېر کارکونکي استخداموي.

شواهد

- **د بشري منابع نیازسنجي.**
- **د استخدام پالیسي موجودیت.**
- **د کارمندانو د اسنادو دوسیه.**
- **د کارمند او محصل تناسب حد اعظمي ۱/۴۰.**
- **اداري تشکیلات.**
- **د منابع بشري د ضرورتونو نیازسنجي ( بشري قوه، زیربنا، سهولتونه ...) موجوده او آینده د تحلیل سره.**
- **د استخدام پلان او د تطبیق شواهد.**

# 7.3 معیار :

د کارکوونکو د استخدام تګلارې او بهیرونه

د استخدام، کاري حجم د اختصاص او د ټولو کارکوونکو د ترفیع اړوند ټولې تګلارې او بهیرونه د لیاقت له مخې او رڼې دي.

شواهد

- د منابع بشري د آمر موجودیت.
- د منابع بشري د تشکلاتو موجودیت.
- د منابع بشري دفتر موجودیت د اړونده تجهیزاتو سره.
- د منابع بشري د امریت د دندو لایحه.
- د منابع بشري پلان موجودیت.
- اداري پالیسیانې لکه (استخدام، انفکاک، تقاعد، مصؤنیت، د کارمندانو قانون) او ټولو کارمندانو ته د لاسرسي شواهد

# 7.4 معیار:

د کړنو بیا کتنه: استاذان

د ټولو استاذانو اجرآت په کلنۍ ډول ارزول کیږي، البته په داسې یو لید سره چې هغوي د کار کیفیت کې ښه والي راوستل شي.

شواهد

- په هر سمستر کې د استادانو د درسونو ارزیابي ( د محصل، امر دیپارتمنت او پوهنځي د رییس) پواسطه.
- د سمستر په جریان کې د درسونو ارزیابي تحلیل.
- هغه شواهد چې د تحلیل شواهد له استادانو سره شریک شوي وي.
- د استادانو له اکادمیکو فعالیتونو څخه د ارزوني شواهد.
- د استادانو له اکادمیکو فعالیتونو د ارزوني تحلیل.

## 7.5 معیار:

د کړنو بیا کتنه: مامورین

د ټولو اداري کارمندانو اجرآت په کلنۍ ډول ارزول کېږي، البته په داسې یو لید سره چې هغوي د کارکیفیت کې ښه والي راوستل شي.

شواهد

- **په کلني ډول د کارکوونکو له کارونو څخه د ارزیابي شواهد.**
- **د کارکوونکو د کلني ارزوني د تحلیل شواهد.**
- **د کارکوونو د دندو لایحې.**
- **عملیاتي پلانونو موجودیت.**

# 7.6 معیار :

## مسلکي پرمختګ

تحصیلي مؤسسه د ټولو کارکونکو پرمختیایي اړتیاوې په ګوته کوي او هڅه کوي ترڅو هغوی ته د حل لاره ومومي.

## شواهد

- **د مسلکي شخص استخدام (چې حد اقل د ماستري لرونکي وي.**
- **د مسلکي پراختیا د مرکز موجودیت چې د منابع بشري او لازمو امکاناتو لرونکي وي.**
- **د دندو لایحې درلودل.**
- **د مسلکي پراختیا د مرکز پالیسي.**
- **د جلساتو د ثبت کتاب.**
- **د مسلکي پراختیا انکشافي پلان.**
- **د انکشافي پلان د تطبیق شواهد.**
- **هغه اسناد او شواهد چې د مسلکي پراختیا مرکز له لوري د نیازمندیو ارزیابي ترسره شوي وي.**

## 7.7 معيار:

اکاډمیکه یا علمي آزادي

علمي ازادي له قانون سره سم خوندي ساتل کېږي

شواهد

- **د اکادمیکي ازادي د پالیسي شتون.**
- **هغه شواهد چې د اکادمیکي ازادئ پالیسي ټولو استادانو او محصلانو ته په واکي کي ورکړل شوي وي ( د پوهنتون ویب سایت، رسمي صفحې، محصلانو رهنما کتاب، استادانو رهنما کتاب).**
- **هغه شواهد چې پوهنتون د اکادمیکي ازادي د نقض او تخطي په مقابل کي اجرات کړي وي.**

# 7.8 معیار:

د کارکوونکو شکایت

تحصیلي مؤسسه په مؤثره توګه شکایتونه سمبالوي.

شواهد

- اخلاقي پالیسي.
- د کارمندانو شکایاتو د رسیدنې پالیسي او طرزالعمل.
- د شکایاتو صندق او طرزالعمل یې، د شکایاتو د ترلاسه کولو نوري لارې لکه انلاین ډول او داسې نور.
- د نظم او دسپلین کمیټه.
- شکایاتو ته د رسیدنې شواهد.
- شواهد چې د کارمندانو او محصلانو شکایاتو ته رسیدګي شوي وي (د نظم او دسپلین کمیټه، د شکایاتو د ثبت کتاب، د شکایاتو صندق)
- د بررسي د نتایجو تحلیل او د شکایاتو د طرزالعمل په انکشاف او نوي کولو کې ورڅخه استفاده کول.

# اتم معیار: د محصل تجربه

تحصیلي مؤسسه ډاډه ده چې یو مثبت چاپېریال رامنځته کوي په کوم کې چې محصلین کولای شي زده کړه وکړي، پرمختګ وکړي او لا پسې وغوړیږي.

## 8.1 معیار:

د محصل په اړه معلومات

تحصیلي مؤسسه د محصلینو په اړه د معلوماتو دراټولولو او تحلیل لپاره سیستمونه لري.

شواهد

- **د کافي ظرفیت لرونکي دیتابیس موجودیت چې ارقام تحلیل کړای شي.**
- **سجل او سوانح.**
- **د ارقامو د تحلیل شواهد چې په پلان ګذارۍ ورڅخه استفاده وشي.**
- **د ګلنیو راپورونو مقایسه کول (جذب، تبدیلي، فراغت، د نمرو مقایسه، د اسنادو توزیع، حاضري، سجل او سوانح).**

# 8.2 معیار:

د محصلینو نظرونه (فیډبک)

تحصیلي مؤسسه د محصلینو د نظرونو د راټولولو لپاره بهیرونه لري او هغه د ضعیفو برخو د تشخیص او ښه والي لپاره کاروي.

شواهد

- د رهنما استادانو د مسؤلیتونو رهنمود.
- د پوهنتون په کچه د محصلانو ټولنه.
- د پوهنځي او څانګي په کچه د رهنما استادانو سره منظمي جلسي.
- د محصلانو شکایاتو او پیشنهادونو ته د رسیدني شواهد.
- د پوهنځیو په کچه د محصلانو د انجمن موجودیت.

# 8.3 معیار:

د فارغانو مهارتونه

تحصیلي مؤسسي هغه مهارتونه تعریف کړي چې غواړي هغه په خپلو فارغانو کې رامنځته کړي ترڅو هغوی د دې جوګه وګرځوي چې په خپلو مسلکونو کې بریالي واوسي.

شواهد

- **د فارغ التحصیلانو د مهارتونو د تشخیص میکانیزم.**
- **د محصلانو د مهارتونو د انکشاف په برخه کې د تفاهم نامو لړل.**
- **د سمینارونو او ورکشاپونو د دایرېدا شواهد.**
- **د کاریابي د مرکز لړل.**
- **کاري پلان او د کړنو شواهد.**
- **د کاریابي مرکز د دندو لایحه.**

## 8.4 معیار:

محصلینو لپاره خدمات او له هغوي ملاتړ

تحصلي مؤسسه د محصلینو له شخصي او اکاډمیکو اړتیاوو سره دمرستې لپاره خدمات وړاندي کوي.

شواهد

- **د مشوره ورکوني مرکز او مسؤل کس لرل.**
- **د محصلانو د تحصیلي او شخصي مشکلاتو د حل په موخه د د میکانیزم موجودیت.**
- **د محصلانو تحصیلي او شخصي مشکلاتو ته د رسیدني شواهد.**
- **د مشوره ورکوني د مرکز کلني راپور.**

# 8.5 معیار :

انصاف او عدالت

تحصیلي مؤسسه ډاډ ورکوي چې له ټولو محصلینو سره د هغوی له جنسیت، ټولنیز او جسمي توپیرونو او نورو موانعو څخه پرته په مساوات او عدالت سره چلند کوي.

شواهد

- د انصاف او عدالت د پالیسي موجودیت او د محصلانو خبراوي.
- د امتحاناتو په جریان کې منځته راغلو مشکلاتو ته د امتحاناتو د کمېټې رسیدګي.
- د پوهنتون په کچه د جندر کمېټې او دفتر موجودیت.
- د نظم او دسپلین او فرهنګي کمېټو موجودیت او د عملي کارونو شواهد.
- د انصاف او عدالت پالیسي د تطبیق په موخه د یو مسؤل کس ټاکل، د دندو لایحه او کلني راپورونه.

## 8.6 معیار:

انضباطي تګلارې او کړنلارې

تحصیلي مؤسسې د پوهنتون او پوهنځیو په کچه  د نظم او ډسپلین پالیسي چمتو کړي، او محصلینو ته یې په اختیار کې ورکړي، چې له مخې یې د محصلینو سلوک اداره کیږي.

شواهد

- **د نظم او دسپلین د لایحې موجودیت او ورڅخه د محصلانو خبراوي.**
- **د پوهنتون په کچه د نظم او دسپلن کمیټې موجودیت.**
- **د نظم او دسپلین کمیټې د کارونو شواهد، د جلساتو د ثبت کتاب.**
- **د نظم او دسپلین په کمیټو کې د جندر په مراعت کولو سره د محصلانو د نمایندګانو موجودیت.**
- **د پوهنځیو په کچه د نظم او د سپلین د کمیټو موجودیت.**

## نهم معیار: د کیفیت تضمین او لوړاوي

د مؤسسي اداري داسې يو جوړښت او پروسه په لاره اچولې چې له مخې یې د ټولو ادارو څخه په دوامداره توګه ارزونه تر سره شوې چې د هغوی د کړنو او دکیفیت د لوړوالي لامل ګرځي.

### 9.1 معیار:

تشکیل او مدیریت

تحصيلي مؤسسه دا یقیني کوي چې د کیفیت ډاډ او پیاوړتیا پالیسی او پروسې د مؤسسې په ټولو کچو کې په اغیزمنه توګه اداره کېږي او د قانون له مخې اداره کېږي.

شواهد

- **د تضمین کیفیت د اصلي او فرعي کمیتو موجودیت.**
- **د دندو لایحې، کاري راپورونه، د جلساتو کتاب او اړونده اسنادو موجودیت.**
- **د تضمین کیفیت د دفتر او لازمو امکاناتو درلودل.**
- **د تضمین کیفیت په کمیته کې د رهبري هیت د برخه اخیستني شواهد.**
- **په پوهنتون کې د ترسره شوو ارزیابیو د تحلیل شواهد.**
- **د پوهنتون د قوت او ضعف نقاطو رابرسیره کول او د ضعف نقاطو ته د عملیاتي پلان جوړول**

## 9.2 معیار:

سرچینې

مؤسسه داډ ورکوي چې د کیفیت دتضمین او لوړاوي د تګلارو او بهیرونو په پلي کولو د کارکونکواو مراکزو لخوا په کافي اندازه سره ملاتړ کیږي.

شواهد

- د تضمین کیفیت د امریت لپاره د مسؤل شخص په دنده ګمارل چې د کاري تجربې لرونکي وي.
- د تضمین کیفیت د امر د فرعي کمیتو سره د ارتباط لرلو شواهد.
- د تضمین کیفیت په امریت کې د اداري او خدماتي کارکوونکو موجودیت.
- د تضمین کیفیت کمیټې لخوا د ټولو کمیتو د ارزونې شواهد.

## لسم معیار: کتابوتون او معلوماتي سرچینې

تحصیلي مؤسسه محصلینو او خپلو پوهنځیو لپاره کتابتون او معلوماتي سرچېنو ته  په کافي اندازه د لاس رسی زمینه برابروي.

### 10.1 معیار:

ورتیا

تحصیلي مؤسسه د خپلو څېړنیزو او اکاډمیکو پروګرامونو د ملاتړ لپاره په کافي اندازه کتابونه/ معلوماتي سرچینې چمتو کوي.

شواهد

- **د مناسبي کتابخاني موجودیت.**
- **د رشتو مطابق د کافي کتابونو موجودیت.**
- **د رشتو مطابق د نویو کتابونو موجودیت.**
- **الکترونیکي کتابونو او ژورنالونو ته لاسرسي.**
- **کمپیوتر لب او معلوماتي تکنالوژي ته لاسرسي.**
- **د مسلکي اشخاصو موجودیت.**
- **د مسلکي زده کړو اسناد.**
- **د معلوماتي تکنالوژي او کتابتون انکشافي پلان.**

## 10.2 معیار :

### مدیریت

کتابتون او معلوماتي سرچیني په اغیزمنه توګه مدیریت کیږي، ترڅو د اکاډمیکو او اداري موخو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي.

شواهد

- د کتابخاني څخه د موثري ګټې اخیستني میکانیزم.
- د کتابخاني او معلوماتي تکنالوژي څخه د استفاده کوونکو لیست.
- د کتابونو څخه د استفادې طرزالعمل.
- د کتابخاني د کارکوونکو د وندو لایحه.
- په کتابخانه کي د دیتابیس شواهد.
- د کتابخاني د مدیریت په موخه د تجربه لرونکي شخص موجودیت.
- د معلوماتي منابعو او کتابخاني انکشافي پلان.
- د کتابونو د تهیه کولو میکانیزم.

# 10.3 معیار:

## لاسرسی

تحصیلي مؤسسه تضمینوي چې کارکونکي او محصلین کتابتون او معلوماتي سرچینو ته مناسب لاسرسئ لري.

## شواهد

- **د کتابتون څخه د استفادي مهالویش.**
- **د کتابونو څخه د استفادي میکانیزم.**
- **د ګروپي مطالعي خوني.**
- **په کافي سرعت سره د انټرنت موجودیت.**
- **دیجیټلي کتابتونونو او ژورنالونو ته د لاسرسي شواهد.**
- **د انټرنتي اسانتیاؤ د بهبود په موخه د انکشافي پلان درلودل.**
- **په کتابتون کي د (مجلي، ژورنالونو، ریفرنس او نورو) شعباتو موجودیت.**

يوولسم معيار: تدريس، معلوماتي ټېکنالوژي او استانتيا وې

د لوړو زده کړو مؤسسې د ملکيت او معلوماتي تکنالوژۍ زېربناوې لري د خپل ماموريت او ستراتيژيکو موخو د ترلاسه کولو لپاره بسنه کوي.

## 11.1 معيار:

### تدريسي اسانتياوې

تحصيلي مؤسسې د څېړنې، عملي او نظري تدريس او دمحصلينو له اړتياوو سره د مرستې په موخه کافي اندازه تدريسي مراکز او امکانات برابر کړي دي.

### شواهد:

- **د معياري او کافي درسي ټولګيو، کمپيوټر لب، لابراتوارونو، عملي او څېړنيز د رشتې اړوند مرکزونو شتون.**
- **د بهرنيو ژبو د زده کړو مرکزونه.**
- **پنځه کلن ستراتيژيک پلان.**
- **د تدريسي اسانتياؤ د معياري ساتنې او څارنې ميکانيزم شتون.**
- **د تدريسي اسانتياؤ د چمتو کولو لپاره د پراختيا پلان شتون.**

# 11.2 معیار:

معلوماتي ټېکنالوژي

تحصيلي مؤسسه هڅه کوي ترڅو کار کونکو او محصلينو ته نوې او مؤثره د معلوماتي ټېکنالوژۍ زېربيناوي چمتو کړي.

شواهد:

- **کمپيوترلب**
- **پرليکه تدريسي اسانتياوي**
- **انټرنيټي خدمتونه**
- **عصري تدريسي وسايل**
- **د معلوماتي ټکنالوژي مسؤل**
- **د معلوماتي ټکنالوژي د اغيزمن تحليل څخه د ګټي اخيستني په پار د راجستر کتاب او يا د بل بديل ميکانيزم شتون.**
- **د معلوماتي ټکنالوژۍ د سرچينو د څارني او ساتني په موخه د کافي مسلکي اشخاصو ګمارل.**

# 11.3 معیار:

اسانتیاوې/ امکانات

د لوړو زده کړو مؤسسه په مناسبه کچه سره اسانتیاوي برابروي.

شواهد:

- د پوهنتون د چاپیریال او اسانتیاؤ د ساتنې او څارنې لپاره د مسؤل شخص شتون.
- د دندو لایحه
- کاري پلان
- تشکیلاتي چارت
- د ساتنې او څارنې معیاري میکانیزم او راپورونه.
- د ساتنې او څارنې لپاره د پراختیایي پلان شتون.

# 11.4 معیار:

روغتیا، خوندیتوب او امنیت

د لوړو زده کړو مؤسسي چاپیریال د محصلانو او کارکوونکو لپاره خوندي دي.

شواهد:

- **صحي کلینیک**
- **د ممکنه خطرونو د مخنیوي په موخه عامه پوهاوي.**
- **د اور ضد وسایل**
- **د لومړنیو مرستو بکسونه**
- **په لابراتوارونو کي د ساتني اسانتیاوي**
- **په خطري حالاتو کي د بهرني بیړنیو لارو شتون**
- **امنیتي کمري**
- **په اضطراري حالتونو کي د ځانګړي تګلاري شتون**
- **د کارکوونکو او محصلانو د عامه پوهاوي، په اضطراري حالتونو، طبیعي پیښو او امنیتي مسایلو په اړه د طرزالعملونو شتون.**
- **د امنیتي او صحي اړونده مسایلو ته د لاسرسي په موخه یو ور کس په دنده ګمارل.**

له توجه مو نړی مننه